# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

قـوه قضائیه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۲۹ وږی ۱۴۰۲ هـ ش | ۵ ربیع الاول ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۰ سپتمبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۳)


## د هیواد د ۳۴ ولایتونو د حقوقو امرینو ته د اداري او مسلکي وړتیا لوړولو په موخه سیمینار جوړ شو

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۱۵ مه نېټه کابل کې د حقوقو عمومي ریاست لخوا د دغه ریاست په تالار کې د هیواد د ۳۴ ولایتونو د حقوقو امرینو ته د اداري او مسلکي وړتیا لوړولو په موخه دوه ورځنی سیمینار جوړ شو.

دغه سیمینار کې د هیواد ۳۴ ولایتونو د حقوقو پر امرینو سربېره یو شمېر اداري کارکوونکو هم ګډون درلود.

د سیمینار په پیل کې ګډونوالو ځانونه معرفي کړل، وروسته د حقوقو عمومي رئیس محترم مفتي ابراهیم جان ابوالحفاظ د سترې محکمې په تشکیل کې د حقوقو اداري د مسلکي او اداري چارو پر ارزښت، د حقوقو ریاست د کارکوونکو تر منځ د همغږۍ او یووالي رامنځته کولو، په خپلو منځو کې د کاري تجربو شریکولو، په حقوقي دعوې یا شخړو کې د مصالحې او د مصالحې له لارې د حقوقي قضیو د حل او فصل پر ارزښت او د محاکمو د فیصلو د تطبیق او تنفیذ په ارزښت تفصیلي خبرې وکړې.

د ښاغلي مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحفاظ) تر وینا او د سیمینار د ګډونوالو تر معرفت وروسته، سیمینار د اجنډا مطابق لومړی د حقوقو عمومي ریاست د حقوقي کارپوهانو آمریت د املاکي کمېټې مسلکي غړي محترم محمد عارف (صباح) په خپل وار سره د حقوقو د حاصلو د څرنګوالي قانون د مسودې په اړه لازم توضیحات ورکړل، دغه راز یې د حقوقو اداري د اجرائیوي چارولکه:د عریضو ثبت، د دوسیود ثبت دفتر، جلب پاڼې، ضمانت خطونو او نورو کاري جدولونو او دفترونو په هکله لازم معلومات ورکړل.

وروسته د کابل ولایت د حقوقو رئیس محترم مولوي عبدالمتین (عمري) د مصالحې له لارې د حقوقي قضیو د حل او فصل د پروسې په اړه د حقوقو آمرینو ته پوره توضیحات ورکړل.

پر دې سربېره د کابل ولایت د حقوقو ریاست د دویم زون د حقوقو آمر محترم عنایت الله (اشرفي) لخوا د حقوقي قضیو(موضوعي او حوزوي صلاحیتونو) او محکمو ته د دوسیو د لېږلو د پروسې او څرنګوالي په برخه کې تدریس وکړ.

په همدې ترتیب د کابل ولایت د حقوقو ریاست د محاکمو د قطعي یا نهایي حکمونو د تطبیق او تنفیذ آمر ښاغلي مولوي محمد نادر (سعادت) د حقوقي قضیو د محاکمو قطعي یا نهایي شوو فیصلو د تطبیق او تنفیذ د پروسې په اړه پوره جریان او څرنګوالی واضح او بیان کړ.

دغه راز د سیمینار ګډونوالو ته پوښتنلیکونه ووېشل او د تدریس شوو موضوعاتو په اړه د جوړو شوو پوښتنو په تړاو د سیمینار د ګډونوالو ځوابونه وغوښتل شول.

د یاد سیمینار ګډونوالو ته د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) په خپله اختتامیه وینا کې د حقوقو عمومي ریاست لخوا د یاد ریاست اړوند ولایتي مسؤولینو او اداري کارکوونکو ته د دغه ډول سیمینار جوړول وستایل او زیاته یې کړه، د اصولو، مقرراتو او مشرتابه د هدایاتو او اوامرو په رڼا کې په پوره امانتدارۍ د هیوادوالو مشکلاتو او موضوعاتو ته رسېدنه وکړئ.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب ووېل، اداري چارې د بشر پر نظرونو او افکارو پورې نه دي تړلې؛ بلکې موږ په اسلام کې هر کار (که هغه اجتماعي یا دفتري وي) ترسره کولو لپاره اصول او لوایح لرو چې دغه اصول او لوایح د اسلام د اساساتو، بنسټونو او منابعو لکه قرآن، نبوي سنت او د مجتهدینو اجتهاد څخه سرچینه اخلي، چې اړوند مسؤولین هم له همدې منابعو څخه په ګټه اخیستنې سره خپل اصولنامې او مقررات ترتیبوي.

دغه راز محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) څرګنده کړه، د چارو سرته رسول لکه یوه فریضه ده؛ ځکه درسپارل شوې دندې د خدای (جل جلاله) له لوري تاسو ته یو مسؤولیت، نبوي تعهد،اسلامي نظام او خلکو سره ژمنه ده؛ که څوک د دغې فریضې سرته رسولو کې د شریعت اصولو، لوایحو او مقرراتو ته توجه ونه کړي او د شخصي، قومي او سمتي اړیکو په نظر کې نیولو سره کار وکړي پایله یې د اسلامي امارت د نظام ناکامي او د خلکو تباهي ده.

د سیمینار په پای کې له ګډونوالو څخه غوښتنه وشوه چې د سیمینار اړوند موضوعات د خپلو ادارو اړوند مامورینو ته ورسوي.

## د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست یوه پلاوي د دایکندي ولایت د څلورو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه

د سترې محکمې اړوند د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست یوه پلاوي د جنوب غرب زون د تمیز عالي مقام او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د هدایت په اساس د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۱۹مه، ۲۰مه، ۲۱مه، ۲۲مه او ۲۳مه نېټه د دایکندي ولایت د شهرستان ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې، د یاد ولایت له ښاري ابتدائیه محکمې، د مرافعه محکمې له دیوانونو، د کیتي ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې ، د ناوه مېش ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې او د کجران ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې او د یادو محاکمو له زندانونو څخه لیدنه وکړه.

د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست دغه پلاوي د خپل سفر په جریان کې په ترتیب سره لومړی د یادې هرې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د عرایضو د ثبت کتاب، د حقوقي او جزائي دوسیو د ثبت کتاب، صادره او وارده او د رسیداتو کتابونو علاوه د حاضرۍ کتابونه هم له نږدې وکتل.

پر دې سربېره یاد باصلاحیته پلاوي د دغو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو لخوا صادرې شوې فیصلې په غور او دقت وڅېړلې او د فیصلو د صادرېدو په اړه یې د یادو محاکمو له مسؤولینو څخه بشپړ جزئیات وغوښتل.

د قضائي تفتیش دغه پلاوي د یادو ابتدائیه محاکمو قاضي صاحبانو ته په اصولي او اعلی طریقه د صادرې او واردې کتاب او د فیصلو د معیاري کېدو په اړه لازم هدایات او لارښوونې وکړې.

وروسته د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست دغه پلاوي د دایکندي ولایت د یادو ولسوالیو له زندانونو څخه لیدنه وکړه او د زندانیانو د وضعیت په اړه یې له هغوی بشپړ معلومات ترلاسه کړل.

دغه راز د قضائي تفتیش پلاوي د دایکندي ولایت د یادو ولسوالیو له ولسوالانو، امنیه قوماندانانو، د استخباراتو له مدیرانو او نورو مسؤولینو سره وکتل او په اړوند موضوعاتو یې ورسره بحث او خبرې وکړې.

## د قضائي پلټنې عمومي ریاست مسلکي پلټونکو د تخار ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام او د قضائي تفتیش د عمومي ریاست د محترم معاون حافظ مولوي عبدالولي(محمود) په هدایت د یاد ریاست یوه مؤظف پلاوي چې په تشکیل کې یې مولوي رحمن الدین (ایشان) او مولوي عبدالله (ذکي) شامل وو، د مولوي سیف الرحمن (ذاکر) په مشرۍ د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د محرم میاشتې په (۲۲مه) نېټه د تخار ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو او د دغه ولایت له زندان څخه د لیدنې په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د خپل سفر په پیل کې د تخار ولایت د مرافعه محکمې له رئیس صاحب سره وکتل، وروسته یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د تخار ولایت له مرکزي زندان (محبس) څخه لیدنه وکړه او د نارینه او ښځینه بندي زندانیانو بشپړ شهرت، کیفیت او شکایتونه یې له ځان سره نوټ او بیا یې د هر بندي شکایت د اړوند محاکمو له مسؤولینو سره شریک کړ.

دغه راز د خپل کاري پلان له مخې یې د یاد ولایت د ( ۱۶ ) ولسوالیو د ابتدائیه، ښاري ابتدائیه او مرافعې محاکمو د ریاستونو او اړونده دېوانونو، حقوقو آمریت او د وثایقو امریت څخه جلا، جلا لیدنه وکړه.

د نوموړي هیئت د پلټنیز بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه تر سره شوه چې د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو په اړه یې بشپړ معلومات و اخیستل شول او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمي لارښوونې وشوې.

یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه له ځان سره نوټ کړل او په لومړي قدم کې یې د ښاري محکمې په دېوانونو کې شته مشکلات د یادې محکمې له رئیس صاحب سره شریک کړل، ورپسې یې د ستونزو د هوارې، د خنډونو د له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د تخار ولایت د مرافعه محکمې له ریاست سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات یې په جلا، جلا توګه ورسره شریک کړل.

د سترې محکمې د قضائي تفتیش هیئت د خپل سفر په جریان کې د تخار د محترم والي په ګډون له ټولو اړوند ولایتي مسوولینو سره لیدنه وکړه او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو مربوطه ستونزو د حل په باره کې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتیش د پلټنې هیئت د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د صفرالمظفر د میاشتې په (۱۲مه) نېټه خپل سفر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک وو پای ته ورساوه.

**د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک**

**درېیمه برخه**

دا خبره هم واورئ، که چېرې علاء بن حضرمي (رضی الله عنه) ته څه ستونزه پېښه شوه، نو دده ځای ناستی د الله تعالی توره خالد بن ولید (رضی الله عنه) دی، نو تر هغه د ده هم پوره خبره اورئ او پیروي يې کوئ، تر څو تاسو ته معلومېږي چې دی پر حق مسیر روان دی او که چېرې د حقې لارې څخه واوښتی، نو د الله عزوجل په برکت، مرستې، لاسنیوي، ودې، عافیت او توفیق سره مزل کوئ، که چېرې له تاسو سره کوم څوک مخامخ کیږي نو د الله (جل جلاله) له لوري نازل شوي کتاب، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سنتو ته يې رابولئ، په کتاب الله کې چې کوم څه حلال ګرځول شوي د هغو د حلالوالي او کوم څه چې حرام ګرځول شوي د هغو د حراموالي ترغیب ورکوئ، د بتانو له عبادت څخه يې منعه کړئ، د شرک او کفر څخه يې بېزاره کړئ، د لات، عزی او شیطان عبادت څخه يې زړه تور کړئ، همدارنګه يې د عیسی ابن مریم، عزیر بن حروة، ملائکو، لمر، سپوږمۍ، اور او د هر هغه شي چې دوی د الله تعالی ضد ګرځولي دي، پوره پرهیز دې ترې وکړي او په هر څه کې دې الله او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) پسې اقتداء کوي. د هر هغه څېز څخه دې بېزاره واوسي چې الله او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) ترې بېزاره دی، نو کله يې چې داکارونه ترسره کړل، اقرار يې وکړ او په ولایت کې داخل شول، نو دوی ته هغه څه روښانه کړئ چې په کتاب الله کې راغلي وي او تاسو يې ورته رابولئ.

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۵ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

# گزارش های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## خلاصۀ گزارش اجراآت قضائی و اداری یک ساله (١٤٤٤ هـ ق) ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت بلخ

ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت بلخ مطابق احکام شریعت اصول اداری محاکم فرامین مقام عالی امارت اسلامی افغانستان و متحدالمآل های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمۀ امارت اسلامی وظایف محوله به طور احسن انجام داده و مصدر خدمات قضائی و اداری برای مراجعین و اصحاب دعوی در ولایت بلخ گردیده که فشردۀ آجراآت قضائی و اداری عموم شعبات و محاکم این ریاست را توحید و ترتیب و ذیلاً تقدیم مینمایم.

**در بخش قضایای حقوقی:**

به تعداد (۷۳۲۰) قضیه وارد دواوین محاکم گردیده است که از آن جمله به تعداد (۱۱۲۵) قضیه فیصله شده، در رابطه به (۳۰۲۸) قضیه با صدور قرار قضائی اجراآت شده، به تعداد(۹۷۱)قضیه مکتوبی مسترد گردیده که جمعاً (٥١٢٤) قضایای حقوقی اجرا شده و به تعداد (۲۱۹٦)قضیه تحت اجراآت قرار داشته و به سال بعدی باقی مانده است.

**در بخش قضایای جزائی:**

بتعداد (۳۳۰۷) قضیه وارد دواوین و محاکم گردیده است که از آن جمله به تعداد (۱۱٤۲)قضیه فیصله شده، در مورد (۱۲۷۳)قضیه با صدور قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و بتعداد (٤٣٤) قضیه مکتوبی مسترد گردیده است که جمعاً (۲۸٤۹) قضایای جزائی اجرا شده و (٤٥۸)قضیه تحت اجراآت قرار داشته و به سال بعدی باقی مانده است.

**در بخش اجرای وثایق:**

جمعاً به تعداد (۱۱۲۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع در آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمه ابتدائیه شهری، محکمه ابتدائیه نظامی و محاکم ابتدائیه ولسوالی های این ریاست اجرا گردیده است.

**در بخش اداری:**

در سال ١٤٤٤ ه ق به تحریرات مرافعه این ریاست به تعداد (٥٤٩٤) عرایض توسط مراجعین و اصحاب دعوی تقدیم گردیده که به اسرع وقت به عرایض مذکور رسیدگی بعمل آمده است.

فرامین مقام عالی امارت اسلامی افغانستان، مصوبات، متحدالمآل های مقام عالی ستره محکمه و مکاتب وارده به وقت معینه اجراآت صورت گرفته به عموم شعبات و محاکم این ولایت تکثیر و به تعمیل آن هدایت داده شده است.

در دفتر وارده و صادره ریاست تحریرات مرافعه به تعداد (۹۲۱٤) مکاتب وارده و صادره گردیده است راپورهای پانزده روزه، احصائیه حاضری، ماهوار و راپور دیتابیس به وقت معینه به مقام عالی ستره محکمه ارسال گردیده.

در بخش مالی حسابی و حفظ مراقبت:

معاشات منسوبین محاکم بر اساس دفتر حاضری از تخصیصات ارسالی مقام عالی ستره محکمه به وقت معینه اجرا گردیده و از تخصیصات دست داشته نیازمندی های این ریاست از قبیل قرطاسیه جات، لوازم الکترونکی، میز و چوکی و سایر ضرویات با در نظرداشت اولویت خریداری و تهیه اصولاً به محاکم تحت اثر آن توزیع گردیده، در صفایی شعبات سرسبزی اشجار و چمن احاطه محکمه حفظ، اجناس توجه جدی صورت گرفته و اجناس ترمیم طلب بعد از نظر هئیت فنی توسط هئیت سه گانه بعد از طی مراحل اصولی ترمیم بعداً مورد استفاده قرار گرفته است.

**در بخش نظارت و مدیریت:**

از محاکم ابتدائیه شهری، محکمۀ ابتدائیۀ نظامی و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های ولایت بلخ دیدن بعمل آمده و دفاتر حاضری شان کنترول، دفاتر اندارج جزائی و حقوقی وارده و صادره فیصله جات شان مشاهده و بر رفع نواقص آن هدایت لازم داده شده، مشکلات محاکم استماع و رسیدگی صورت گرفته و دوامدار از کار های شان نظارت بعمل آمده است.

**در بخش اداره و ارتباطات:**

جلسات اداری با منسوبین قضائی و اداری، جلسات به اشتراک رؤسای دواوین مرافعه، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و رؤسای دواوین آن، رئیس محکمۀ ابتدائیۀ نظامی زون بلخ و اعضاء قضائی محکمۀ مذکور، مسؤولین ادارات عدلی و قضائی، مقام محترم ولایت بلخ، ریاست های محترم استخبارات، عدلیه، زندان، قوماندانی عمومی امنیۀ ولایت بلخ و ادارات ذیربط ولایت بلخ در ۱۵روز یک بار و عندالضروت در جریان هفته یک بار صورت گرفته، روی بهبود امور کاری و عرضۀ خدمات قضائی و اداری و رفع مشکلات صحبت و بحث بعمل آمده و تصامیم لازم اتخاذ و غرض اجراآت به محاکم و ادارات ذیربط ارسال گردیده است.

از ریاست زندان ولایت بلخ به دفعات دیدن بعمل آمده، مشکلات زندانیان در مورد دوسیه های شان استماع و به رسیدگی شرعی و اصولی دوسیه های شان به محاکم و ادارات ذیربط هدایت لازم داده شده، به منظور سهولت انتقال زندانیان ولسوالی های که مسافۀ شان از زندان عمومی ولایت بلخ دور است در مرکز چهار ولسوالی زندان ایجاد و مشکلات محاکم مذکور از ناحیۀ انتقال متهمین به جلسۀ قضائی مرفوع گردیده با ادغام ادارات حقوق به محاکم انتقال آمریت حقوق مرافعه و مدیریت های حقوق ولسوالی ها از ریاست عدلیه به محاکم مرافعه و ولسوالی طور منظم صورت گرفته است.

## د خوست محاکمو په یوه میاشت کې د (۱۰۲) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۷۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱۴۴۵/۱/۱هـ ق څخه تر ۱۴۴۵/۱/۳۰هـ ق نېټې پورې د خوست ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې په حقوقي برخه کې (٤) دوسیې مکتوبي مستردې کړې، د (۱۲) دوسیو په اړه یې قضائي قرارونه صادر کړي، (۲۰)دوسیې یې فیصله کړې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې په جزائي برخه کې (۱۰) مکتوبي دوسیه مستردې کړې، د (٥) دوسیو په اړه یې قضائي قرارونه صادر کړي، (٥١) دوسیې یې فیصله کړې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۱۷۳) بېلا بېل وثایق هم اجرا شوي دي.

## طی چهار هفته محاکم پنجشیر علاوه بر حل و فصل (٥٨)قضیه، به تعداد (٢٣٦) قطعه وثایق نیز اجرا کرده است

توحید گزارش اجراآت از تاریخ ١٤٤٥/١/١ هـ ق الی١٤٤٥/٢/١هـ ق دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی ها ولایت پنجشیر به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان چهار هفته به تعداد(۷۰) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرارداشت.

از آن جمله (٥) دوسیه مکتوبی مسترد شده، راجع به (١٦) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٢٦) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (١٢) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز به تعداد (١٨) دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله راجع به (١٠) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٧) دوسیه فیصله شده است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (٢٣٦) قطعه وثایق مختلف النوع درآمریت ثبت اسناد وثایق و محاکم ابتدائیه ولسوالی های این ریاست اجراگردیده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (١٠٣) دوسیه، (٧٨) قطعه وثایق اجرا شده است

توحید گزارش را پور دوسیه جات وثایق ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت پروان از تاریخ ١٤٤٥/١/١٩ الی١/ ١٤٤٥/٢ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦٩٦) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلا نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (١٢) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در رابطه به (٣٥) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٨) دوسیه فیصله گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (١٩٩) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلا نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٤) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (١٨) دوسیه قرار قضائی صادرد شده، (٢٦) دوسیه فیصله گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (٧٨) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت فاریاب علاوه بر حل و فصل (۴۳۱) جلد دوسیه؛ (۴۷۲) قطعه وثایق نیز اجراء گردیده است

گزارش اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های ولایت فاریاب از تاریخ ١٤٤٥/٢/١ الی ١٤٤٥/٢/١٥ هـ ق به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش جزائی :**

در جریان دو هفته به تعداد (١٠٥) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حـالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملـــــه (٥ ) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (٣٧ ) دوسیه قرار قضـــــائی صادر شده، ( ٦٦ ) دوســــــــیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش حقوقی :**

در جریان دو هفته به تعداد( ٢٦٣ ) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملـــــه ( ١٤ ) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در رابطه به ( ٢١١) دوسیه قرار قضـــــــــائی صادر شده، ( ٩٨) دوســــــیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ٤٧٢ ) وثایق مختلف النوع اجرا شده است.

## طی دو هفته محاکم جوزجان علاوه بر حل و فصل (۲۵٤) دوسیه، (۱۹۳) قطعه وثایق نیز اجرا کرده است

اجراآت دو هفتهٔ دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ولسوالی های (۱۰)گانه ولایت جوزجان از تاریخ ۱٤٤٥/۲/۱ الی ۱٤٤٥/۲/۱۵ هـ ق بشرح ذیل تحریر است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۷۵ ) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاَ نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، پیرامون (۲۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته (۱۳۵) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، پیرامون (۱۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳٦) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار است.

**در بخش وثایق:**

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۹۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا شده است.

## طی دو هفته محاکم سمنگان علاوه بر حل و فصل (۱۵۱) دوسیه، به تعداد (۸٤) وثایق نیز اجرا کرده است

راپور اجراآت دو هفته ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان از تاریخ ۱٤٤٥/۲/۲ الی ۱٤٤٥/۲/۱۵ هـ ق که شامل دواوین استینافی، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیه ولسوالی های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل میباشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۳) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلا تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۹) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٦۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسیه طی مکتوب مسترد شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۸) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲٦) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۸٤) قطعه وثایق مختلف النوع اجرا گردیده است.

## طی دوهفته محاکم ولایت غور علاوه بر حل و فصل (۱۳۹)دوسیه، (۱۳۹) قطعه وثایق اجرا کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غور از تاریخ ۱٤٤٥/۲/۱ الی ۱٤٤٥/۲/۱٦هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها بشرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۱۰٤) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرارداشت.

از آن جمله (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٤۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله(۵) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲٤)دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۱۳۹) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## دکندهار ولایت محاکمو په دوو اونیوکې د (۳۷۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۹۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱۴۴۵/۱/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۵/۱/۱۵ هـ ق نېټې پورې دکندهار ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، دکندهار زون نظامي محکمې او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي او جزائي اجراآت شامل دي.

**مرافعه محکمه:**

د محرم الحرام میاشتې په لومړیو دوو اونیو کې دکندهار ولایت د مرافعه محکمې دیوانونو ته (۵۴) قضیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې ډلې (۱۹) قضیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۸) قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) قضیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**ښاري ابتدائیه محکمه:**

د محرم الحرام میاشتې په لومړیو دوو اونیو کې دکندهار ولایت د ښاري محکمې دیوانونو ته (۱۵۱)قضیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه ( ۶) قضیې مکتوبي مستردې شوې، د (۸۳)قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۶) قضیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**دکندهار نظامي زون محکمه:**

د محرم الحرام میاشتې په لومړیو دوو اونیو کې دکندهار زون نظامي محکمې ته (۲۰) قضیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۱)قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸) قضیې فیصله شوې او پاتې تر کار لاندې دي.

**د ولسوالیو ابتدائیه محاکم:**

د محرم الحرام میاشتې په لومړیو دوو اونیو کې دکندهار ولایت د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو ته (۲۸۳)قضیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې یو شمېر قضیې له مخکې هم موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۹)قضیې مکتوبي مستردې شوې، د (۵۲) قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۸) قضیې فیصله شوې پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**د وثایقو برخه کې:**

په یاده موده چې دکندهار ولایت د محاکمو اړوند د اسنادو او وثایقو امریتونو (۱۹۶) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بامیان طی چهار هفته علاوه بر حل و فصل (۷٦) قضیه، به تعداد (۲۸۹) وثایق نیز اجرا کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بامیان از تاریخ ۱٤٤٤/۱۲/۲٦ هـ ق الی۱٤٤٥/۱/۲۷هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، و محکمهٔ ابتدائیه شهری به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان چهار هفته به تعداد( ۷۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مسترد به مکتوب، پیرامون (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله شده است و متباقی دوسیه در دیوان های مربوطه تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (٤٦) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مسترد به مکتوب، پیرامون (۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصله شده است و متباقی دوسیه در دیوان های مربوطه تحت کار می‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۲۸۹) قطعه وثایق مختلف النوع در آمریت ثبت اسناد وثایق این ریاست اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت لغمان طی دوهفته علاوه بر حل و فصل (۱۰۶) دوسیه، به تعداد (۱۵۴) وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت لغمان از تاریخ ۱۴۴۵/۱/۱۵ الی ۱۴۴۴/۱/۳۰هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۵۵)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلا نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه مکتوبی، (۳۳) دوسیه قرار قضائی و (۱۴) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان دوهفته به تعداد(۴۲) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلا نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی، (۲۲)دوسیه قرار قضائی و (۱۷)دوسیه فیصله اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۵۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## د ننګرهار محاکمو د زمري په میاشت کې د (۹۲۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۴۱۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱/ زمري/ ۱۴۰۲ څخه تر ۳۱ / زمري/ ۱۴۰۲ هـ ش نېټې د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د زمري میاشتې حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په زمري میاشت کې د ننګرهار ولایت محاکمو ته (۴۵۵) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۸۶) دوسیې مکتوبي اجرا شوې دي، د (۲۵۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۴) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې :**

په زمري میاشت کې د ننګرهار ولایت محاکمو ته (۲۵۲) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۵) دوسیې مکتوبي اجرا شوې دي، د (۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۸۰) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**په تجارتی برخه کې :**

په زمري میاشت کې د ننګرهار ولایت محاکمو ته (۱۷۷) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکی هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۳) دوسیې مکتوبي اجرا شوې دي، د (۸۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۴۱۷) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## دکابل د مرافعه محکمې د عمومي رئیس او د ښاري محاکمو رئیسانو ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۲مه نېټه د کابل ولایت د مرافعه محکمې د ریاست په دفتر کې د دې محکمې د عمومي رئیس محترم مولوي عبدالشکور(رشاد آخندزاده) په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې چې د کابل ښار د ابتدائیه محاکمو د څلورو زونونو محترمو رئیسانو په کې ګډون درلود، دوسیو ته په چټکه توګه د رسېدنې، دوسیو ته د رسېدنې پر مهال د نوبت مراعتولو، د کارکوونکو پام په جدي توګه خپلو کارونو ته اړولو او ځینې نورو موضوعاتو بحث او خبرې وشوې.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې ښاغلي مولوي عبدالشکور (رشادآخندزاده) د غونډې ګډونوالو ته تر ښه راغلاست وروسته د یاد مجلس پر اهمیت خبرې وکړې او وویل، د داسې غونډو هدف دا دی چې محاکم به په اجراآتو کې خپلې ستونزې مشخصې او یادو ستونزو ته د حل لارې چارې ومونډل شي، په ټاکلي وخت د دوسیو د حل او فصل لپاره پر اصولي لارو بحث وشي او د کارکوونکو د کار کمیت او کیفیت معلوم شي.

وروسته د محاکمو ښاغلو رئیسانو په نوبت په اجراآتو کې د لا بهبود په موخه خپل وړاندیزونه او نظرونه شریک کړل.

غونډه د مرافعه محکمې د رئیس لخوا تر ځینو هدایاتو شریکولو وروسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ بادغیس از آمریت عمومی زندان آن ولایت بازدید کرد

یوم پنجشنبه مؤرخ ۱۴۴۵/۲/۲۲ هـ ق محترم مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمۀ مرافعه با همراهی محترم مولوی صفی الله (حلیمی) مفتی دیوان جزای محکمۀ مرافعه، محترم مولوی محمد حسین (محمدی) رئیس دیوان جزا، محترم مولوی عبدالحکیم (حقانی) مفتی دیوان ترافیک محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محترم مولوی محمدالدین (المخدوم) رئیس محکمۀ ابتدائیۀ قادس و اعضای قضائي آن محکمه از زندان عمومی ولایت بادغیس بازدید نمود.

رئیس محاکم با هیئت معیتی شان ابتداء با محترم الحاج ملاسید باران (عدالتی) آمر عمومی زندان ولایت بادغیس ملاقات نمود؛ سپس با محبوسین و زندانیان از نزدیک صحبت نمودند و طی صحبت های عالمانۀ خویش به مخاطبین توصیه های سودمند شریک کرد.

رئیس محکمۀ مرافعه گفت که هدف از آمدن و نظارت از محبس اینست که اشخاص بی سرنوشت در حبس قرار نگیرند و اطمینان داد که دیگر هیچکس بدون سرنوشت در حبس قرار نخواهد گرفت.

موصوف همچنان به مسؤولین مدیریت ارتباط محاکم زندان هدایات لازم نمود و در اخیر زندانیان مشکلات و نظریات خود را در یک ورق درج و به هیئت تقدیم نموده اند.

## برای اعضای قضائی و اداری محاکم ولایت بدخشان سیمینار پنج روزه راه اندازی شد

به تاریخ ۱۴۴۵/۲/۱۲هـ ق تحت ریاست محترم مولوی شمس الله(عزیزی) رئیس محکمۀ مرافعۀ با اشتراک تمام قضات اعم از رؤسا، مفتی، محررین، پرسونل اداری و خدماتی در دفتر کاری ریاست محکمۀ مرافعه سیمینار پنج روزه دایر گردید.


سیمینار مذکور با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس روی موضوعات شامل آجنداء سیمینار که از طریق رهبری امارت اسلامی تهیه و ترتیب گردیده است بحث و تبادله نظر صورت گرفت.

همچنان طی این سیمینار بالنوبة هر استاد طبق تقسیم اوقات تدریس کرد، موضوعات شامل آجندای جلسه را واجب التعمیل دانسته اند.

علاوه بر آن مشارکین جلسه به رعایت موضوعات متذکره تعهد نمودند گفتند که موضوعات یاد شده طبق دستور شریعت تهیه گردیده است، رعایت آنرا بالای هر مسلمان بخصوص بالای هر فرد منسوب امارت اسلامی قابل تعمیل میباشد.

این سیمینار با ارائۀ کلمات دعائیه خاتمه یافت.




میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳